این مجله درشماره اول خویش درقسمت مرام ومقاصد تشکیل اجتماع قوم عرب وتشکیلات اداري آن معلومات کافي ارائه نموده ونیز ازفعالیت هاي دوران جهاد ومبارزه ایشان یادآورشده ، از حل مسئله افغانستان ازطریق مذاکره، تاسیس دولت اسلامي ازطرف مردم ،تشکیل اردوي اسلامي ، تسلیم دهي اسلحه ثقیله وخفیفه واشتراك نمایندگان همه ملیت هاي مجاهد افغانستان درحکومت آینده ،حمایت نموده است .

انفجاریك ماین درنزدیکي یك بس حامل پناهندگان درچیچن ده نفر راهلاك وپنج تن دیگررا مجروح ساخت .

مامورین ملل متحد گفته اند: این بس ۴۷ نفر رابه انگوشیا همسایه چیچن انتقال میداد که درجنوب غرب گروزني بایك ماین تصادم نمود .

***

دامریکا دبهرنیوچارو وزیر وارن کرسټوفر په روانه اونۍ کي سوریې ته سفرکوي چي داسرائیلو اوسوریې ترمینځ دسولې په خبروکي نوري هڅي هم وکړي .

***

شرکت هاي انجنیري آلمان ونمایندگان اتحاد به کارگران فلزات درمورد افزایش دست مزدکارگران به توافق رسیده اند .

یك نطاق این اتحادیه گفت : هردوجانب بعدازچهارساعت مذاکره به این توافق نایل گردیده اند .

***

عربستان سعودي میگویدکه نسبت به گزارش هاي مبني براستقرار موشك ازسوي ایران دردهانه خلیج فارس نگران نمي باشد . وزیر دفاع سعودي گفت : اگر این گزارش هادرست باشد ضرورتاً به آن معني نخواهد بود که ایران مقاصد تهاجمي دارد . وي افزود که سعودي ایران رادشمن خودنمیداند وخواستارهمکاري هاي دوجانبه بین دوکشورمیباشد.

***

سازمان عضو بین المللي فعالیت هایي رابراي دفاع ازحقوق زنان آغازکرده وازدول مختلف درسراسر جهان خواسته است که درین زمینه اقدامات بیشتري انجام دهند .

دکابل داوسنیو خونړیو جګړو په باب مختلفي څرګندوني

دکب ۱۶ مه :

په پیښور کي دحزب وحدت اسلامي نماینده عباس (دلجو) دیوي تلیفوني مرکي په ترڅ کي وویل ، چي روانه جګړه دنظارشورا د مشر مسعود اود هغه دملګرو دذهنیت محصول دي اودوي زمونږ پرخلکوباندي ډیره سخته جګړه تحمیل کړي ده .

عباس دلجو زیاته کړه ،چي دحزب وحدت اسلامي مجاهدینو دخپلو سنګرونو څخه په کلکه دفاع کړي او برغل ګرځواکونه یې شاه تګ ته مجبور کړي دي ، چي زیاته مرګ او ژوبله هم ورته اوښتي ده .

عباس دلجو ددي پوښتني په ځواب کي ، چي دسولي له پاره کوښښونه روان دي جنګونه ولي پیل شوي ؟ وویل :

مسعود پرهیزي چي هرکله په افغانستان کي یو پراخ بنسټه حکومت رامنځ ته شي دهغي انحصاري حاکمیت ختمیږي نو په همدي اساس کوښښ کوي ، چي داسي یو حالت مینځ ته راوړي ، چي دسولي بروسه سبوتاژ کړي .

ده زیاته کړه : مسعود دحزب وحدت څخه غواړي ، چي خپلي وسلي ورته وسپاري اودخپلوحقه ،حقوقو او غوښتنو څخه تیرشي .

دبلي خوا دربانی ویاند مسعود خلیلي - وویل ، چي دولت دمزاري سره دمذاکرو له لاري داختلافاتو دحل کولو پیشنهادوکړ .

مسعود خلیلي زیاته کړه ، چي دمزاري قواوي په کابل دراکټونو او هاوانونو ګوزاروته کوي اوبي ګناه خلك وژني نو ځکه حکومت مجبور شو ،چي دمزاري دقواوو هغه ځایونه بمباري کړي ، چي راکټونه تري توغول کیږي.

خلیلي د دي پوښتني په ځواب کي ، چي له یوخوا حکومت وبلي د حمل په لمړي نیټه قدرت انتقالوي او له بلي خوا دحزب وحدت اونوروته دوسلو ټولولوکوښښ کوي ! ددي ګټه څه ده ؟ وویل :

حکومت دوه کاله کیږي چي دمختلفولو نه وسلي ټولوي .

دحزب وحدت اسلامي سره په روان جنګ کي حکومت د دشت برچي ، قلعه قاضي ، ده دانا اوقلعه واحدکي پیش رفت کړي او امید دي چي هغه ځایونه هم ونیسي .

چي دحزب وحدت وسلي اوزبات قوتونه یکي ډیره دي خلیلي دطالبانو په هکله وویل : په دلارام کي دجنګ له پاره تیاري نیولي اوهغوي تیره ورځ یوه حمله هم کړي وه .

دوي هره ورځ حکومت ته دجنګ ګواښونه کوي خو حکومت د جنګ نه ډوه کوي او په خبرو دمسایلو حل غواړي .

خلیلي زیاته کړه ، چي طالبان غواړي په هرات هم حمله وکړي اوهلته سوله ګډ وډه کړي ، حال دا چي په هرات کي نظم برقراردي ، مکتبونه جاري دي او ژوند عادي دي خوطالبان غواړي چي هرڅه بربادکړي طالبان دمسایلو دحل پراځیني لار جنګ بولي .

خلیلي زیاته کړه ،چي طالبان د چهار آسیاب له لاري په کابل او دلارام له لاري په هرات حمله وکړي چي ددي ټولو خبرو معني داده ،چي هغوي په سوله عقیده نه لري .

دي وایي چي طالبان ځان جنګ ته اماده کوي که دوي حمله وکړي تومونږ به خامخا دفاع کوو ځکه چي دخلکو له پاره امنیت راوستل زمونږ مسئولیت دي .

خلیلي وویل ، چي تراوسه دطالبانو سره خبرو نتیجه نه ده ورکړي مګر حکومت اوس هم کوښښ کوي چي مسایل دسولي له لاري حل کړي .

په کابل کي ددفاع وزارت منابع وایي ،چي په دریمي کارتې کي یې دحزب وحدت اسلامي لومړي دفاعي سنګرونه مات کړي اوځه ځایونه یې تري نیولي دي خو دحزب وحدت منابعو دا ادعا رده کړي او زیاته کړي یې ده چي دوي وتوانیدل په سیلوکي دنظار شورا له وسله والو څخه ځیني پوستي ونیسي .

ددفاع د وزارت ویاند په کابل کي خبریالانو ته وبلي ، چي د دولتي قواوو تهاجمي حملي اوعملیاتو هدف په کابل باندي دراکټونو دوزومخنیوي دي .

دافغانستان په شمال کي دحزب وحدت دسیاسي چارومسؤل محترم حاجي محمد محقق دیوي پوښتني په ځواب کي وویل : مونږ تراوسه پوري امید واریو چي مسعود اودهغه همکاران به پوه شي اوجنګ نه به لاس واخلي ، مونږ جنګ دحل لار نه بولو ده وویل په تیرو دري کالو کي تل زمونږ پرخلاف جنګونه تحمیل شوي او مونږ دخپلو خلکو دمشروعو حقوقوڅخه دفاع کوله خو هغوي زمونږ په عامي وژني پسي ملاتړلي ده .

ده زیاته کړه که هغوي دجګړو نه لاس وانخلي مونږ چمتو یو چي دهوايي ځواك اوسکډ توغندیو څخه استفاده وکړو او دا کولاي شو چي د نظار شورا په ځیر مسکوني سیمي تر هدف لاندي ونیسو .

محقق وویل : مونږ تر ننه پوري دالسناني ولاېلو له مخي ددغو امکاناتو څخه کار نه دي اخستي ، خو هغوي باید دامسئله جدي وګڼي او که دجګړي نه لاس وانخلي ،نو هغه وخت به مونږ دخپلو دغه امکاناتو څخه کارواخلو او ددي کار مسؤلیت به دنظار شورا دمشر مسعوداو سیاف په غاړه وي .

محقق د عبدالله ددي ادعا په باب چي د دوي هدف په کابل کي دمزاري له منځه وړل دي ، وویل : دنظارشورا نشي کولاي چي حزب وحدت له مینځه یوسي ، که څه هم دحکمتیار ځواکونه اوس دسروبي سیمي ته تللي خو حزب وحدت په خپلو خلکو اتکا لري اوله ځانه دفاع کولاي شي.

محقق وویل ترننه مونږ دجګړي ختمولو انتظار ایستلي اوکه ختمه نشي ؟ سبا چمتو یو، چي اقدام وکړو .

محقق دطالبانو په باب وویل : زمونږ خبري دطالبانو سره جریان لري. او دي نتیجي ته رسیدلي یو چي زمونږ اصلي ستونزه دمسعود انحصاري حاکمیت دي . کله چي دامسئله حل شي نو طالبانو سره زمونږ مسئله دتفاهم له لاري حل کیداي شي .

محقق دشوراي عالي هماهنګي په باب وویل : مونږ دمحترم حکمتیار اودشورا نورو اړخونو سره دیخوا په شان وروڼه اومتحدیو اوزمونږ دریځ یودي .

دفراه اوهلمنددولایتونو په پولوکي ...

دلارام - دکب ۱۹ مه :

دفراه ولایت ددلارام په سیمه کي دمه شنبي په ورځ دطالبانواوپخوانیو مجاهدینو ترمینځ خونړي نښتي پیل شوي چي په ترڅ کي یې ددواړولورو څخه زیات خلك ووژل شول .

دفراه ولایت څخه دترلاسه شوي مخابروي ریپوټونوپه حواله وبل کیږي ، چي طالبانودشپي په څلورویجوددلارام په مرکزي سیموخپل برغل پیل کړ، چي په ترڅ کي یې ددلارام مرکزاوځیرمه سیمي ونیولي او دسهارپه پنځویجو دهرات دوالي تورن اسمعیل خان نظامي مرستیال جنرال علاوالدین دطالبانوسره په جګړه کي ووژل شو .

په ریپوټ کي زیاته شوي، چي تورن اسمعیل خان په همدغه ورځ جهادي قوتونه له سره منظم اوخپلي مستقیمي قوماندي په ترڅ کي ني دطالبانو پرسنګرونو سوق کړل، چي ددوساعتونو سختو اوخونړیو جګړو نه وروسته طالبان ددلارام سیموپریښودو مجبوراوخپلوپخوانیو سنګروتوته ، چي په « کوه تلخك » کي موقعیت لري په شا شول.

دوروستیو مخابروي ریپوټونوپه اساس : طالبان دپخوانیومجاهدینو حملوته په کوه تلخك کي هم تم نشول، چي له دي ځایه څخه سنګران ته وتښتیدل ، اوس دسنګران په سیمه کي دطالبانو اوپخوانیومجاهدینوترمینځ پوره زورسره جګړه روانه ده .

په مخابروي ریپوټونوکي زیاته شوي، چي مجاهدینودطالبانووسله والو څخه (۷۰) تنه جنګیالي ، چي دوه مشهورقوماندانان هریو ملانعمت الله اوملامحمدعثمان (نسیم) هم پکي شامل دي دوسلوسره ژوندي نیولي دي .

همداراز دطالبانوڅخه ۲۹ تنه دجنګ په ترڅ کي ووژل شوي ،خوودزخمیانوپه باب ني معلومات نه دي ترلاسه شوي .

همداراز دپاکستان په بلوچستان ایالت چمن ښارکي دطالبانوویاند ملاخیرالله هم په فراه کي دطالبانو اوتورن اسمعیل خان دقواوو ترمینځ دپیښوشویو جګړو تصدیق وکړ اوزیاته ني کړه : موږ دمخابري له لاري په فراه ولایت کي دخپلو منابعو څخه خبرترلاسه کړ، چي دکندهاراوهلمند ولایتونو څخه کوم قراریان چي هرات ته تښتیدلي وو اوتورن اسمعیل خان سره یوځاي شوي دي ،نوتورن اسمعیل دهغوي په اشاره دجنګي الوتکو په ذریعه په طالبانو بمباري پیل کړي ، چي دمحترم ملاعبدالسلام راکټي په لاس دهغوي یوه جنګي الوتکه نسکوره اوپیلوټ ني مړشوي دي .

ده زیاته کړه همداراز دتورن اسمعیل په قوماندانه دهغه وسلوالو په طالبانو خپلي حملي پیل کړي ، چي په مقابل کي پرون دشپي په ګلورو بجوجنګ پیل شو، چي تراوسه دوام لري .

ملاخیرالله وویل : طالبانودجنګ په ډګرکي داسمعیل خان (۲۰۰) تنه وسلوال ژوندي نیولي او ۶۰ تنه ني وژلي دي .

ملاخیرالله وویل : طالبانو دهراتي اسمعیل څخه (۴۰) عرادي موټري ، ۱۶ زنځیره ټانکونه او ۳ بابه خیمي هم نیولي، چي په خپسرګي دهغوي ۶۰ تنه مري پراته وو .

ملاخیرالله دطالبانو دتلفاتوپه باب وویل : دطالبانو څوا دوه تنه په شهادت رسیدلي او څوتنه نور ټپیان شوي دي دطالبانو دراتلونکي تصمیم په باب ده وویل : داله وخت نه مخکي خبره ده ، خودومره باید ووایم چي اوس جنګ پیل شوي کله چي جنګ پیل شي بیا مونږترهغي خپل کوښښ ته دوام ورکوو چي په بشپړه توګه دښمن مات شوي نه وي .

له بلي څوا حیات الله الکو دارغنداب دسیمي پوتي قومي مشر دطالبانو دغورځنګ دتالیدیه ترڅ کي وویل : داطالبان سرچه افغانان دي، ملامحمد عمر آخند، ملاعباس آخند ،ملابورجان، ملااحسان الله داټول موږپیژنودوي پراسلامي اوملي جذبه راپورته شول

زه په سلوکي آتیا دا واوروکوم چي مسعود ،رباني ،خلقیان اوپرچمیان به دپرزړیه ګرنهوشي، خلك ځیني اتواهات اچوي چي دوي به ددولت سره جوروي خوزه دااطمینان ورکوم چي دوي هیڅکله نه دربانی اونه دنورو تنظیمونو سره جوړيدي شي ځکه داامیرويس خان اوحمشاه بابا لمسیان دي اوس به که خداي کړل ملامحمد عمرآخند اودهغه ملګري داتاریخ جوروي

ده دي په هکله چي طالبان پرکابل دحملي قصد لري اوکه نه وویل چي حتماً دوي تنکیالي خلك دي ،دوي داسلام په جذبه راولاړ شوي ، دوي نه کابل پریږدي اونه نوردافغانستان سیمي .

\#\#

مونږ باید دشهیدانو دسترو..

مهترلام دکب ۱۵ مه

دلغمان ولایت په مرکزي جامع جومات کي دکوچني اختر په مناسبت یوه درنده غونډه جوړه شوي وه. چي برخوالوته دلغمان ولایت دارشاد اسلامي مسؤل شیخ القرآن محترم مولوي محمود شاه اودلغمان د جهادي شورا رئیس او والي مجاهد وروور استاذ عبدالله جان "واحدي" عالمانه ویناوي وکړي .

دمهترلام ښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي ، چي دلغمان ګن شمیر اوسیدونکو مجاهدینو ، جهادي قوماندانانو او اداري مسؤلینو په تومورۍ غونډه کي ګډون کړي وو.

په خبر کي راغلي ، چي دلغمان ولایت والي محترم مجاهد وروور عبدالله جان "واحدي" دهیواد دروانې سیاسي او پوځي وضعي په باب هر اړخیزي ویناوي وکړي.

وروور "واحدي " دخپلو خبرو په ترڅ کي وویل : په هیواد کي دکمونستي رژیم په راتلو او بیا دروسیې لښکرو دمستقیمو پوځي تیریو سره جوخت د افغانستان دمجاهد ملت په ځوان قشرکي دقرباني جذبه پراخه او دهیواد په هره دره ، دښته اوسیمه کي دجهاد لړۍ توندي شوي بالاخره روسیي لښکري دجنګ په ډګر کي له فاحشي ماتي سره مخ او په دي ترتیب یې سره امپراطوري ټالا ترغه او سیاسي نقشه یې په تجزیې سره بدله شوه . په سیمه او نړۍ کي پر روسیې پوري تړلي رژیمونه یو دبل پسي دافغان مجاهدینو د بې ساري قربانیو اوکلك مقاومت په ترڅ کي خپله ، خپلواکي ترلاسه کړه .

استاذ واحدي زیاته کړه تقریباً دري کاله وړاندي دهیواد په مرکز (کابل) کي دکمونستي رژیم دروستي سنګر هم بالیانو مجاهدینو دتوري له خرپ سره نسکور اومجاهدین په فاتحانه ډول دکابل واټونو ته داخل شول . دلغمان والي وویل اکه څه هم نړیوال استکبار پردي بریالي شو ، چي زمونږ په ګران هیواد کي دخپلمنځي جګړو لړۍ تودي

وساتي اوپرېنږدي ، چي مونږ دسوچه اسلامي نظام څښتنان شو. خوامیدوار یو چي زمونږ دجهاد اصلي هدف ترسره شي .

دلغمان دجهادي شورا رئیس په هیواد کي د روانو ناخوالو د یادوني په ترڅ کي وویل : څرنګه چي د جهاد اصغر دوره پاي ته ورسیده اودجهاد اکبر دوره پیل شوي ، پرمونږ لازمه ده ، چي دخپلو نفسونو سره په کلکه محاسبه وکړو.

استاذ واحدي دلغمان ولایت دمجاهد ولس دتیرو جهادي کارنامو په باب وویل : دلغمان مجاهد ولس دجهاد داوږدي مودي په دوران کي زیات جهادي کارنامي ترسره کړي او ډیر برمیال مجاهد زامن یې د خداي جل جلاله په لار کي قرباني ته وړاندي کړل ، چي دهغوي دپاکو وینو په برکت نن مونږ دخپلواك هیواد او دخپل برخلیك دټاکلو مستحق ګرځیدلي یو.

مونږ نه باید دهغو نومیالیو شهیدانو دسترواړمانونو دتحقیق په لیارکي بي تفاوته پاتي شو .

استاد زیاته کړه : څرنګه چي دي ولس دجهاد په اوږدوکي سختي ستونزي ګاللي ، نونن باید موږیې ډیراحترام سره ددوي خدمت وکړو خومتاسفانه چي ځیني بي مسؤلیته وسله وال نن هم دوي ته مشکلات پیداکوي چي دتحمل وړنه دي .

استادواحدي وویل : مونږدېنه نظم اودسپلین په خاطر، نور باید له مصلحتونو څخه ځان ګیرا اوپه عملي توګه قدمونه اوچت کړو ، دښه نظم متقابل احترام او ورورکلوي فضا دجوړیدو په خاطر، مونږ دخپل مجاهد ولس ، لارښوونو اومرستو ته زیات ضرورت لرو ، نو په همدي اساس مونږ امیدوار یو ، چي دلغمان مجاهد ولس په دي لارکي زمونږسره هرډول مرسته اوهمکاري وکړي . خبرپا ل په پاي کي لیکي چي غونډه داستاد واحدي په دعا سره پاي ته ورسیده .

څخه دآسیایي هیوادونو ګوټ ګوټ ته دسیاسي اجتماعي ، اقتصادي ، کلتوري اونظامي ستراتیژي انتقال په آساني سره کیداي شي توله همدي امله امپریالیزم داسلام اواسلامي خوځښت دګروهي ویښتیا به په وړاندي جګړه له بل هرځاي نه لومړي همدلته په ډیرزوراوشدت سره پیل کړي ، خومونږپرالله جل جلاله پوره باوري

اومتوکل یو چي موږ به په خپل مقدس مرام اوارمان کي یوازي اونیمه خوانه پرېږدي بلکي دخپل قادرذات په بي زواله نصرت به موږیالي ، زمونږ له فکرونو اواتکلو څخه به ستري فتحي اولویاافتخارات رایه برخه اودکمونیزم دوحشیانو په څیریه امپریالیستي داره ماران هم زمونږ دایماني مفوپه زورواونه ماتیدونکي هود مغلوب اوراوپرځوي .

خسارات مالي وجاني زيادی ...

روزگذشته میان نیروهاي حزب وحدت اسلامي ونیروهاي شوراي نظار بیش ازدوصدتن افراد شوراي نظار جراحت برداشته وتعدادي هم نیز به هلاکت رسیده اند وشصت نفر آنهاتوسط نیروهاي حزب وحدت اسلامي اسیر شده اند . ازطرف دیگر حاجي دلجونماینده حزب وحدت درپشاور ازتمام مجامع بین المللي وموسسات حقوق بشر درخواست کرد که استعمال بم خوشه یي آتشزا ازطرف قواي حکومت درمناطق مسکوني رامحکوم نمایند . وي افزود که ساحه ده مراد خان وسیلو دردست نیروهاي حزب وحدت میباشد ودرگذرگاه نیزسه پوسته دشمن بدست نیروهاي حزب وحدت درآمده است

خبرنگاران مي افزایند که ازاثر اصابت راکت هاي نیروهاي حزب وحدت در پارك زرنگار، ارگ ، وزارت خارجه ، باغ زنانه ، باغ بالا وکارته پروان تلفاتي به میان آمده است

نماینده حزب وحدت اسلامي درتهران طي مصاحبه تیلفوني اظهارداشت که طي دو روز گذشته نیروهاي رباني ومسعود بیش ازده بارمناطق غرب وجنوب غرب کابل را بمباران نموده وهدف سلاح هاي سنگین خویش قراردادندکه خسارات بسیار زیادي به اهالي منطقه وارد گردید .

وي افزود که مقاومت دلیرانه نیروهاي حزب وحدت ادامه دارد ودرجنگ دو روزگذشته نیروهاي مابان بیش ازبیست وهفت تن از افراد شوراي نظارراببه اسارت خود درآورده اند .

وي ادعاي وزارت دفاع اداره ائتلافي که برخي ازمناطق تحت کنترول حزب وحدت اسلامي رابه تصرف خود درآورده اند ردنموده گفت : نیروهاي این حزب هم اکنون درمواضع قبلي خود مستقرهستند .

خبرهاي دیگرحاکیست که دردرگیري در سیلوبعضي مناطق دیگررا ازتصرف نیروهاي اداره ائتلافي آزاد نموده اند .

یك سخنگوي حزب وحدت اسلامي درپشاوربااشاره به تلفات سنگین راکت باران وبمباران مناطق مسکوني درغرب وجنوب غرب کابل توسط طیارات اداره ائتلافي ازمجامع بین المللي خواست که استعمال بم هاي خوشه یي وآتشزا ازطرف نیروهاي اداره ائتلافي را محکوم کنند .

همزمان بااین درگیري هاسازمان ملل خواستارتوقف جنگ شده است وگفته اند برقراري آتش بس به گروه چهارنفري این سازمان فرصت خواهد داد تاتلاش هاي خودرا جهت فراهم نمودن زمینه تشکیل دولت انتقالي درکابل ادامه دهد .

قرارگزارش رادیو تهران آقاي ناطقي

نیروهاي زمیني وهوایي..

منازل و کشتزارهاي آن مناطق وارد آمد .

درخبرآمده است که محاصره دریائي بندرهاوسرك هاي ساحلي لبنان ازبیست وهفت روزبه این طرف ادامه دارد .

اهداف استعماري امریکا ...

فقط در لاي چند الفاظ تشریفاتي همدردي خویش راخلاصه نموده اند .

بي موردنیست قصه اسف انگیزتاریخي را ازسقوط بخاراي مسلمان درینجا یادآورشویم : زمانیکه بخارا مورد تجاوز نظامي روس ها قرارمیگرفت، سیدعالم خان ازپادشاه وقت افغانستان تقاضاي کمك نمود ولي شاه افغانستان درخواست امیر بخارا رامبني براعزام قواعلیه پیشروي روس ها دربخارا نادیده گرفت وجوابي ارائه نداشت . شاه بخارا درجواب نوشت که « امروز بخارا .... فرداافغانستان » .

بلي امروز اگرماتباهي وبربادي کشوراسلامي رابي باکانه به تماشا بنشینیم ، مطمئناً فردا جهان شاهد بربادي وتباهي ماخواهد بود. اگر کشوري اسلامي امروز مورد تهدید وتجاوز کشورهاي استعماري قرارمیگیرد ودارایي و هستي آن کشور به تاراج میرود، نباید خاموشانه به تماشا نشست بلکه این سکوت مرگبارکشورهاي اسلامي را باید درهم شکست ومتحدانه دربرابر پیشروي هاي اهداف استعماري غرب قدعلم نموده ونگذاریم بیشتر ازین برکیان اسلامي مسلمانان جهان اهانت صورت گیرد .

پس اي عاشقان راه خدا ! بیائید دست روي دست هم گذاشته ،نگذاریم دشمن مکار بیشتر ازین کشور هاي اسلامي را به میدان فعالیت ها وتوطئه هاي خائنانه خویش مبدل سازد .

دکتورمحمدعلی نقوی...

اندکه یك تیم خاص سازمان اطلاعات امریکا درپاکستان به سرمیبرد تاعملیات تروریستي رادرآن کشورپیش ببرد . اززمان ورود این تیم (CIA) امریکا به پاکستان تاکنون ده هانفردرین کشوربه خصوص درشهرکراچي به شهادت رسیده اند .

زمونږ داسلامي ویښتابه ...

افغانستان دکمونستي نړۍ اړیکو یانو له پاره داهمیت وروپه همغه ډول دامپریالیزم تیکه دارانو اولویدیزي نړۍ ته هم سوق الجیشي اهمیت درلود ځکه چي دکمونیزم په ګونهو کېدو اوواپرځیدوپیل هم له همدي ستراتیژیکي خطي (افغانستان) وشو نودهمدي تاریخي وضاحت اوحقیقت په رڼا کي امپریالیزم هم خپله چاره دهمدي ونډ په اوبو کي ګوڼي ځکه خو په ډیري سپین سترګي اولوړاوازوایي امپریالیزم ته له کمونیزم څخه زیات خطراسلام دي چي ددي خطراحساس هم دافغانستان له مسلمان ملت څخه کوي ، خولدي څخه

هم ځوك انکارنشي کولي چي اسلام کوم ډول دریځ دکمونیزم پرخلاف لري له امپریالیزم سره هم دهمغه ډول موقف لرو نکي دي نوهمدالامل دي چي دکمونیزم له ګواښ اوتهدید څخه بیغمه امپریالیزم اوس داسلام اومسلمانانو سره تیغ په تیغه د دښمني میدا ن ته راوتلي دي .له دي څخه هم سترګي نشي پټیدلاي چي نن دنړۍ پرهیوادونو دامریکایي امپریالیزم څوا د برلاسي اوحاکمیت هلي ځلي رواني اويدي هکله یې څه ناڅه بري اوموفقیت هم په برخه شوي دي خودآسیاد لوی دوچي زړه (افغانستان) ځکه ورته ترټولو مهم اواهمیت وړبکاري چي له همدي تقطي

شهادت

ارگان مركزي حزب اسلامي افغانستان

شماره مسلسل (٩١) پنجشنبه (١٨) حوت ١٣٧٣ هـ ش

فرمان الهی

اي مومنان؛نگهداريد خودرا واهل خويش را ازآتشي كه آتش انگيزآن انسان هاوسنگ ها ست . مقرراند برآن آتش فرشتگان درشت خو، سخت رو كه نافرماني نمي كنند الله را درآنچه فرموده است ايشانرا، وبجامي آرند آنچه امركرده مي شوند . (التحريم - ٦)

ارشادنبوی

پيامبرعليه السلام فرمود : كسيكه دردلش ذره يي ازكبر باشد داخلجنت نمي شود. شخصي عرض كرد : كسي پسندمي كندكه لباس وپاپوشش زيبا باشد آيا اين عمل هم كبر مي باشد؟ پيامبر عليه السلام فرمود : خداوند جميل است وجمال وزيبايي رادوست دارد. كبر عبارت ازانكارحق وحقيرشمردن مردم است .

(مسلم)

احكام دين خودرا بياموزيم

دقضايي روژوحكم :

٦- دقضايي روژودنيولو لپاره داضروري ده چي له شپي څخه يه ئي نيت كوي كه له صبح صادق نه وروسته ئي نيت وكړنوقضائي نه ستي كيږي دده روژي نفل گرزي اودقضائي روژوبيا نيول پري واجب دي .

٧- كه درمضان څوروژي پاتي وي اودهغي دقضا راوروخت ورته پيدانه شو، ترڅوچي بل رمضان پري داخل شونواول دي درمضان فرضي روژي ونيسي اوبيادي له رمضان څخه وروسته قضايي روژي ونيسي .

٨ - كه چادشك په ورځ درمضان روژه ونيوله وروسته ورته معلومه شوه چي داخو دشعبان دمياشتي ٣٠ مه ورځ ده نوداروژه ئي نفلي شوه كه څه هم چي مكروه هم ده كه فرضاً له معلوماتو نه وروسته ئي ماته كړه نوددي روژي قضائي پري نشته خوكه درمضان اوله ورځ وه نوروژه ئي په رمضان كي حسابيږي .

درگيري ميان عساكر روسي وچيچن همچنان ادامه دارد

چيچن - ١٧ حوت :

آخرين گزارش هاي رسيده ازگروژني حاكيست مدافعان چيچن به نبردباعساكرروسي درجنوب گروژني ادامه ميدهند .

چندروزقبل مسكو اعلان كرده بود كه عمليات پاكسازي پايتخت چيچن راازگروه هاي مسلح غيرقانوني به پايان رسانده است . ولي سرويس مطبوعاتي نيروها ي روسيه درچيچن امروزصبح اعتراف كردكه نبرد درپايتخت ادامه داشته وعساكر روسي تمام توان خودراجهت جلوگيري نفوذ مدافعان چيچن به منطقه به كارميبرند .

خبرديگرحاكيست : درنبردهايي كه روز دوشنبه رخ داده است تلفات جاني سنگيني به عساكرروسي وارد گرديده ولي تعداد دقيق اين تلفات معلوم نميباشد . درين نبرد ها چندتن ازمدافعان چيچن نيزجراحت برداشته اند ودرگيري همچنان ادامه دارد .

درخبرآمده است كه درجريان اين درگيري قواي توپخانه وطيارات جنگي روسيه مناطق بي دفاع گروژني رابه شدت بمباران كردند . توپخانه روسيه همچنان مناطق ارگون ، شالي وگودرمردر شرق چيچن راگلوله باران كرد كه طي آ ن تلفات مالي وجاني زيادي به مسلمان چيچن وارد گرديد .

دپاكستان دكراچي په ښاركي دامريكا دقونسلگري دوه تنه كاركوونكي ووژل شول

كراچي - دكب ١٨ :

نامعلومو وسله والو پرون دكراچي په ښاركي دامريكا دقونسلگري دوه تنه كاركونكي چي يوه يي دقونسل سكرتره وه دټوپك په ډزو وژلي اويوتن بل ئي ټپي كړي .

دپاكستان درسمي آژانس په قول نامعلومو وسله والو دقونسلگري دعملي په موټر هغه وخت ډزي وكړي كله چي موټردقونسلگري په لوروان و .

دسنداياالت اعلي وزير ددي پيښي ملامتيا په تروريستانو اچولي اوزياته كړي ئي ده ، چي ددي كارهدف امريكانه دصدراعظمي بوټوسفر وړانول دي .

همدارازيه ريپوټونو كي ويل شوي چي دنوموړي ښار دناظم آباديه سيمه كي دنامعلومو وسله والو افرادو دري تنه ښاريان هم وژلي دي .

اخبار گوټ گوټ جهان

امريكائي دالرتيره ورځ بيواربيا دجاپاني ين په مقابل كي خپل قيمت له لاسه وركړ، چي په دي ترتيب امريكائي بانكونه دستونزوسره مخ شول .

مالي څارونكي وايي چي كيداي شي امريكا ئي دالر خپل قيمت دجاپاني ين اوجرمني مارك په مقابل كي نورهم ټيټ شي .

***

كاردارسفارت امريكا دربيروت اوضاع جنوب لبنان راخطرناك خواند. وي گفت : بهترين راه براي پايان دادن بحران، پيشبرد مذاكرات صلح ميباشد . . اين موضعگيري امريكا درحالي انجام ميگيرد كه وارن كرستوفر وزير خارجه اين كشور بارديگر وارد آن منطقه مي شود تامذاكرات را ازبن بست خارج سازد .

***

دكراچي ښارگلبرگ په سيمه كي دلرگيريه يوگدام كي داورلگيدو له امله ٢٥ دكانونه په بشپړډول وسوزيدل ، چي په ترځ كي يي په سلهاوزره موجود مالونه داوريه لمبوكي وريت شول .

دنواي وقت دخبريه اساس په دي پيښه كي دوه گدامونه هم سوزيدلي .

***

كاهش ارزش دالر وديگر پول هاي اروپايي دربازارجهاني ادامه دارد . كاهش ارزش دالر دربرابر سائر پول هاي بين المللي به خصوص درمقابل ين جاپان باوجود تلاش توكيو براي جلوگيري ازسقوط ارزش آن ادامه يافت .

***

ددوشنبي په ورځ دكراچي په ښاركي نامعلوموسله والو ديوتن پوليس په شمول پنځه تنه ووژل.

دنواي وقت ورځپاڼي دخبريه اساس دكراچي ښارپاك كالوني په سيمه كي نامعلوموسلوالو يوتن پوليس محمدالياس اودده ملگري وويشتل اوويي وژل . همدارازدكراچي په مختلفو سيمو كي پرله پسي ډزي كيږي چي دخلكودويري سبب گرځيدلي .

***

ايران بايك شركت امريكايي « كونيكو» موافقتنامه ئي رابراي انكشاف ساحات نفت وگاز درخليج فارس امضا كرده است .

اين موافقتنامه بيش ازسيزده مليارد وهفتصدوپنجاه مليون دالرازدرك فروش نفت وگازعايد دارد .

***

دملگروملتونومالي پانگه له ستونزو سره مخ شوي دملگروملتونو دمنابعو په حواله ددغي اداري په غړو هيوادونو د١٩٩٤ كال ددسمبر د٣١ نيټي راهيسي ٨. ١ بليونه دالره واجب الادا دي، چي تراوسه ئي نه دي وركړي .

***

امريكاميگويد پشتيباني كافي درشوراي امنيت ملل دارد تاهرگونه اقدام را براي رفع تحريم فروش نفت عراق خنثي سازد .

سفيرامريكادر ملل متحد گفت : حداقل ده عضو ازجمله پانزده عضو شوراي امنيت ملل متحد بامساعي جهت رفع تعزيرات عليه بغداد مخالف هستند .

***

دهند په ناگالينډ سيمه كي دناگالينډ بيلتون غوښتونكواودهند امنيتي ځواكونو ترمنځ په نښته كي دامنيتي ځواكونويه شمول (٨) تنه وژل شوي .

دپ پ ا دخبريه اساس نښته هغه وخت رامنځته شوه چي بيلتون غوښتونكو په ناڅاپي ډول دهند په امنيتي ځواكونوبرغل وكړ .

مونږكوښښ كوو چي په ايران باندي سياسي اواقتصادي فشار واردكړو ترڅو له خپله دريځه په شا شي

واشنگټن دكب ١٧ مه

دسپين ماني ويااند ويلي كه څه هم دايران او (كنوكو) دتيلو تجارتي معامله دقانون مطابق ده ليكن دا خوراگټورانكشاف نه دي .

دي وايي : داموافقه چي تراوسه يي موټر مطالعه كوو غير قانوني نه ده اودامريكا دقانون له مخي كوم مشكلات نه لري ،مگر دايران سره دغه راز همكاري دامريكا دپاليسي مطابق نه دي . چي موټر غوره كړي ، څكه موټر كوښښ كوو چي په ايران باندي په سياسي اواقتصادي لحاظ فشار واچو. چي په خپل دريځ كي بدلون راولي .

د ١٩٨٠ م كال نه رابه ديخوا چي دايران سره دامريكا روابط خراب دي دكنوكو دكمپني دااقدام دايران سره لومړني تجارتي معامله ده .

دپكتيا قومي شورا په كابل كي دسمدستي جگړي دبندولو غوښتنه وكړه

گرديز دكب ١٦ مه :

دپكتيا ولايت قومي شورا دكابل جگړي چي درباني قواوولخوا دحزب وحدت برخلاف پيل شوي سختي غندلي اودسمدستي يي د بنديدو غوښتنه كړي ده .

دپكتيا ولايت دقومي شورا په اعلاميه كي په ملگرو ملتونو باندي غږ شوي دي ، چي ددغو ناوړو جنگونو دختمولو له پاره دي سمدستي اقدام وكړي .

چين په دفاعي چاروكي ٢١ فيصده زياته پانگه تصويب كړي ده

پيكنگ دكب ١٦ مه .

چين په خپلي كلني بودجه كي ددفاعي چارو په پانگه كي له دياسه ٢١ فيصده زياتوالي تصويب كړي.

دريوټونو په اساس داشپږم كال دي ، چي دچين حكومت په پرله پسي توگه په دفاعي پانگه كي زياتوالي راولي ، خو په نوي بودجه كي دزراعت اوكرهني له پاره په بودجه كي هم زياتوالي راغلي دي .

دكرهني او زراعت دستونزو په اړوند تير كال دچين دانقلابيون سرحد د غلوبنبت فيصدو لخه اوښتي و لبيگ ديكښني په ورځ اعلان وكړ چي په روان كال كي دزراعتي توليد زياتول دحكومت له پاره مهمه موضوع ده .

په هانگ كانگ كي دښاروالي انتخابات ترسره شول

هانگ كانگ دكب ١٩ مه .

دهانگ كانگ خلكو پرون په بلدياتي انتخاباتو كي هغه كانديدانو ته ماته وركړه چي دښار والبو په انتخاباتوكي دچين ملاتړ يي كړي و ، اودهغه گوند طرفداري يي كړي ، چي د برتانيي پخواني مستعمره كي دديموكراتيك سيستم ملاتړكري و دانتخاباتو نتايج ښئي چي ديمكراتيك گوند دښاري اوسيمه ايزو شورا گانو ډيري څوكي ترلاسه كړي دي .

ددي انتخاباتو نتيجو ته ددي له پاره هم توجه كيداي شي ، چي پداسي حال كي ، چين ته ددي مستعمري دسپارلو وخت رانږدي دي . خلك به دچين دطرفدارو كانديدانو سره څومره خپل پيوستون ونيشي .

عساكر ارمنستان يكي ازقراي آذربايجان راهدف حمله قرار دادند

باكو - ١٧ حوت :

نيروهاي ارمنستان روستاي علي بكري آذربايجان راباتوپخانه گلوله باران كردند . وزارت دفاع آذربايجان روزپاآنتشارييانيه ئي اعلان كرد، درين گلوله باران يك تن هلاك وچندتن ديگرزخمي شدند .

آذربايجان بااعلان اينكه خبرحملات نيروهاي ارمني ونقض آتش بس ازطرف آنان رابه اطلاع ناظران كشورهاي مشترك المنافع رسانده ، تهديد كرد درصورت ادامه اين حملات ، اقدام تلافي جويانه بي انجام خواهد داد .

دپاكستان دپنجاب په ايالت كي ١٤ تنه دنامعلومو وسله والو له خوا ټپيان اوووژل شول

لاهور دكب ١٦

دپاكستان د پنجاب ايالت جهان ښاركي نامعلومو وسله والوكسانو شپږ تنه په مرمېو وژلي او اته تنه نوريې ټپيان كړي دي .

دپنجاب ايالت د پوليسو يو وياند ويلي دغو خلورتنو وسلوالو چي مخونه يي پټ كړي وو د جهان په ښاركي په هغو خلكو ډزي وكړي چي ديوي جنازي نه وروسته خپلوكورونو ته ستنيدل په وژل شويوكسانو كي دايالتي شورا يو تن پخواني غړي شيخ محمد اقبال هم شامل دي . له دېنه مخكي هم دكراچي په ښاركي د اختريه ورځو كي نامعلومو وسلوالوپوشميركسان وژلي دي.

دتولنيزي ودي نړيواله غونډه پرانستل شوه

كوپن هاگن دكب ١٦ مه .

دملگرو ملتونو عمومي منشي بطروس غالي دتولنيزي ودي په باب دملگرو ملتونو لومړني نړيوالي غونډي د پرانستلو په موقع ويلي ! په نړي كي دغريبي اومفلسي دختمولولو پاره يونوي پلان بايد جوړشي .

غالي دكوپن هاگن په دي غونډه كي په گډون كوونكو باندي غږ وكړ ، چي داسي يوژوندي اوفعال محيط راپيدا كړي چي هغه دسياسي ثبات سبب وگرځي .

ده وويل ، چي په بشري حقوقوكي ترټولواساسي هدف دادي چي سري دغريت اومفلسي نه خلاص شي .

په دغه هفته ايز كنفرانس كي د (١٠٦) هيوادونو نمايندگان گډون كړي.

دسره خمر وسله والو دكمبوديا په شمال لويديز ښار باندي دتوپونو ډزي كړي دي

بنكاك دكب ١٦ مه

دسره خمر وسلوالو دروانې اونې په پاي كي دكمبوديا په شمال لويديز ښار بتنگ بانگ باندي دتوپونو ډزي كړي دي ، چي په دي حمله كي د دووتنو د وژليكيدو خبر وركړل شوي دي .

دغه حمله په داسي وخت كي شوي ده چي دسره خمر اوحكومت ترمينځ دجنگ په باره كي ضد اونقيض ريپوټونه وركړل شوي دي .

ايران سه زن رابه اتهام قتل يك كشيش مسيحي محاكمه ميكند

تهران - ١٧ حوت :

ايران ميگويد سه زن راكه بقتل يك كشيش مسيحي وطرح بم گزاري دردوزيارت مسلمانان متهم ميباشند، هفته آينده به طورعلني محاكمه خواهد كرد .

اين سه مظنون درماه جولاي گذشته توقيف گرديده بودند واندكي بعدازآن دريك كنفرانس مطبوعاتي به گناه خوداعتراف نمودند . انها اعتراف كرده اند كه يك كشيش مسيحي رابه قتل رسانيده وطرح بم گزاري رابه مقبره آيت الله خميني درتهران ويك مقبره ديگر درشهرقم ريخته اند .

مقامات ايراني ميگويند اين حملات قسمتي ازيك دسيسه توسط گروه تبعيدي مجاهدين خلق براي براه انداختن آشوب مذهبي وفرقوي بوده است . سازمان مجاهدين خلق كه مقرآن دربغداد است مي گويد : ارتباطي به اين سه زن مظنون نداشته واستخبارات ايران رامتهم به انجام اين حملات كرده است .

شوراي تصميم گيري ...

، افتخار وعظمت حزب اسلامي درايست كه در جريان كارش همبشه با منافع استعمار تصادم نموده است و مجاهدين حزب با وجود شيطنت هاي سحانه پيدا وپنهان دشمنان باقامت استوار وعزم راسخ براي نيل به آرمان هاي والايش به پيش ميروند . ايشان افزودند همانطوريكه حزب اسلامي درميدان فداكاري وجهاد مقام اول را حايز بوده ، دركارهاي دعوتي و سياسي نيز درمرتبه نخست قرار داشته وامروز اكثريت كادرهاي چيز فهم وكارآمد ملت ، متعهد بحزب اسلامي اند .

برادر حكمتيار ضمن خطاب به اعضاي مجلس فرمودند ؛ كه با توجه به تحولات سريع وغير مترقبه اخير بخاطر دريافت راه حل مفيد و جامع براي ختم بحران جاري تأمل نمايند.و براي انتخاب پاليسي وروش معقول با سعه صدر وحوصله فراخ سنجش نمايند . ايشان به تعهد حزب اسلامي به ادامه كار شوراي هماهنگي اصرارداشتند و براي ختم بحران جاري ، بر گشايش باب مذاكره با تمام طرف هاي درگير تاكيد نمودند

برادر حكمتيار درقسمتي ازسخنانش بمقتضاي شرايط فعلي تجديد نظر به تشكيلات نظامي ، اداري و تنظيمي را ضروري دانستند وبراي اتخاذ تصميم درين مورد كميسيون هاي را توظيف فرمودند متعاقباً اعضاي مجلس بالنوبه نظرات و پيشنهادات شان را در قبال تحولات اخير كشور ابراز داشتند كه روي هر نظر وپيشنهاد بحث ومناقشه صورت مي گرفت بنابر گزارش مقام سكرتريت حزب اسلامي ، اجلاس امروز پنجشنبه پايان خواهد يافت .

وزير خارجه ايران بارئيس پارلمان سلواك ديدارنمود

سلواكيا - ١٧ حوت :

علي اكبرولايتي وزيرخارجه ايران درديداربارئيس مجلس نمايندگان سلواك درباره تشكيل گروه دوستي پارلماني، همكاري مجالس تحكيم وتقويت روابط دوكشورگفتگوكرد .درين مذاكرات رئيس پارلمان سلواك نيزازگسترش روابطه دوكشوردرزمينه هاي مختلف استقبال نمود.

ولايتي همچنان باوزيراقتصاد سلواك ديدار ودرباره همكاري اقتصادي وتبادل تجارب دوكشوردرزمينه علوم ودانش تخنيكي درصنايع مختلف وسرمايه گذاري مشترك گفتگو نمود .

سوريي ويلي چي دگولان غونډي ددي هيواد نه بيليدونكي برخه ده

دمشق دكب ١٦ !

سوريي د اسرائيلو دا پيشنهاد رد كړي دي ، چي ورته يي ويلي : د دواړو ملكونو ترمينځ د روابطو عادي كيدو له پاره د گولان دغونډيو له يوي برخي څخه به ووځي .

دسوريي حكومتي ورځپاڼه وايي چي د گولان غونډيو څخه داسرائيلو دېشېري وتلو پرته دسولي امكان نشته .

دغي ورځپاڼي دسوريي هغه پيشنهاد تكراركړي چي وايي دېشېري سولي له پاره داسرائيلي عسكرو بشپړ وتل حتمي دي او زياته كړي يي ده چي دگولان غونډي دسوريي ، نه بيليدونكي برخه ده .

مولانا فضل الرحمن

الرحمن سره دملگرتيا په غرض پاكستان ته استولي و چي تن له مولاناسره يوځاي كابل ته ستون شو.

دپاكستاني دخبري سرچينوپه قول ويل كيږي ،چي كابل ته دمولانا فضل الرحمن سفردخاص اهميت وردي .

په افغانستان كي د پاكستان

مه دسه شنبي په ورځ په اسلامي آباد كي جوړه شي، خورسمي غونډه به دشنبي په ورځ افتتاح شي اودغروهيوادونولوړرتبه ماموكين به پكي گډون وكړي .

دمسكود پوليسو عمومي قوماندان او لوي څارنوال برطرف كړاي شو

مسكو دكب ١٦ مه .

په روسيي كي ديو ژورنالست دقتل څخه وروسته دمسكو د پوليسو عمومي قوماندان اولوي څارنوال رسماً برطرفه شوي دي يلتسن تيره اونۍ د دوي دبرطرفي امركړي و.

يلتسن په ملي شورا كي دغونډي مشرتوب كوي او په هغي كي به دمنظمو جنايتكارو ډلو دعملياتو دمخنيوي له پاره لاري چاري لټول كيږي .

دتلويزيون د ژورنالست د وژل كيدو لامله په ټوله روسيي كي دخلكو واويلا جوړه شوي ده ، چي حكومت دي بايد دتروريستي اعمالو مخه ونيسي.

بقيه سرمقاله

خاطر تا حد توان آنها را تقويه وتاييد مي كرد تابه سرعت وآساني بتوانند بر كيان حزب اسلامي درآن مناطق لطمه بزنند.

زمانيكه طالبان به كابل نزديك شدند وتااين زمان اداره ائتلافي تماشاچي و حامي آنهابود ، حزب اسلامي لازم نديد كه بخاطر جلوگيري از پيشروي طالبان بسوي كابل بجنگد . جنگ حزب اسلامي درلوگر وچهار آسياب به مفهوم دفاع از رژيم كابل بود.

حال آنكه اداره ائتلافي كابل در همان وقت هم در صدد آغاز حمله وسيع ازعقب جبهه عليه نيروهاي حزب اسلامي بود . لهذا حزب اسلامي بخاطر عدم درگيري دريك جنگ درازمدت ديگر كه تلفات زيادي را نيز بهمراه داشت ، لوگر وچهار آسياب رابدون جنگ تخليه كرد تا طالبان رو در روي نيروهاي ائتلاف قرار بگيرند تا از يكسو ماهيت وهدف آنها واضح شود وازسوي ديگر براي ملت اين اتهام اداره ائتلافي كه حزب اسلامي يگانه عامل جنگ در افغانستان است ، برملا شود كه آيا باكنار رفتن مجاهدين حزب اسلامي ، رباني ومسعود حاضر اند كه ازكرسي اقتدار پايين بيايند ومنبعد سايه شوم جنگ از سرمردم ما دور شود ؟!

مگر حال كه باكنار رفتن حزب اسلامي از خطوط اول جنگ ، هنوز هم شهر كابل وساير ولايات افغانستان درآتش جنگ مي سوزد ، اين حقيقت به اثبات ميرسد كه حزب اسلامي از اول عامل جنگ نبود و سعي داشت تااسباب وزمينه هاي جنگ راازطريق مذاكره ويا هم دفاع از سر راه بردارد.

باگوشه شدن حزب اسلامي ازميدان جنگ نه تنها دامنه جنگ كم نشد ، بلكه تشديد هم شد وحملات قواي ائتلاف بالاي مواضع حزب وحدت درغرب كابل ازيكسووحملات طالبان وائتلاف عليه يكديگر دركابل وقراه از سوي ديگر شاهد اين مدعاست .با كنار رفتن حزب اسلامي ازخط اول جنگ ، برتعداد مخالفين ائتلاف يك جبهه قوي ديگر هم اضافه گرديد وحالا چهار جناح با ائتلاف درگيري بالقوه ويابالفعل دارند و هنوز هم هيچ نشانه يي از تنازل حكام كابل براي حل مشكل ازراه مذاكره به نظر نه ميرسد واوضاع روزتاروز پيچيده ترشده ميرود. اميد واريم كه از لابلاي اين پيچيدگي ها ، سرنخ حل قضيه بياري خدا (ج) بدست آيد وحزب اسلامي بازهم نقش محوري اي در تعيين سرنوشت سياسي آينده كشور داشته باشد و كذب اتهامات سه سالهٔ نا جوانمردانهٔ دشمنان عليه حزب اسلامي كاملاً به اثبات برسد .

شهادت

بيانگرعقايدوآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنيرحكمتيار

ناشر: رياست ارشاد وفرهنگ

تحت نظر هيئت تحرير

آدرس : جلال آباد چكنوري

حساب بانكي : ٨٥٢٦٤ دافغانستان بانك

تيلفون : ٢٩٢٦

آدرس پستي : ١٠٣٦ يونيورستي ټاون پشاور